ورځپاڼه
هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
دوشنبه د محرم الحرام ۱۸ مه ۱۴۴۷ق کال، د چنګاښ ۲۳ مه ۱۴۰۴ ل کال، د جولای ۱۴ مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه ۹۰ یمه، پرله پسې ګڼه ۷۵۳ مه، اتمه دوره

بېرته راستنېدونکو ته په ۲۵ ولایتونو کې ۳۵ ښارګوټي جوړېږي

د اسلامي امارت چارواکي وايي، چې د هېواد په ۲۵ ولايتونو کې له ګاونډيو هېوادونو بېرته راستنو شويو کورنيو ته ۳۵ ښارګوټي جوړېږي. د اسلامي امارت د وياند مرستيال حمدالله فطرت پرون ويلي: ټاکل شوې چې دغه ښارګوټي پر ۱۲۰زره جريبه ځمکه ورغول شي. د نوموړي په وينا، دغه پروګرام به بېرته راستنېدونکو ته د ژوند لومړني شرايط برابر کړي. فطرت زياته کړه چې د يادو ښارګوټو د جوړولو او نورو اسانتياوو برابرولو لپاره يو ميليارد افغانۍ ځانګړې شوي، چې د حکومت له کورنۍ بوديجې ورکول کېږي.بلهخوا د هرات د کهسان ولسوال او اسلام کلا بندر کې بېرته راستنېدونکو ته د رسېدني کمېټې مسئول عبدالغني کامل وايي، چې ياد بندر کې بنسټيزې پروژې پلي شوې دي. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو اوونيو کې له ايران څخه د افغان کډوالو د راستنېدو بهير ګړندی شوی، چې هره ورځ زرګونه کسان د اسلام کلا له لارې هېواد ته داخلېږي.

اسلامي امارت راستنېدونکو افغانانو ته د ژوند مناسب شرايط برابروي

د رياست الوزراء اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي له ايران څخه د افغان کډوالو د راستنېدو بهير او اړوندو سيمو ته د هغوی د لېږد پروسې څخه په کابل کې ليدنه وکړه. په دې ليدنه کې ښاغلي حنفي له نږدې د کډوالو د راستنېدو بهير او خپلو اړوندو ولايتونو او سيمو ته د هغوی د لېږد پروسې څارنه وکړه او مسئولينو ته يې د چارو پر وخت د رسېدنې ټينګار وکړ. مولوي عبدالسلام حنفي د روغتيا، خوړو او اوبو برابرولو په ګډون بېلابېلو خدماتي برخو کې د ټاکل شويو پلاويو هڅې وستايلې او ډاډ يې ورکړ چې اسلامي امارت به د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې راستنېدونکو هېوادوالو ته د ژوند مناسب شرايط برابر کړي. همداراز نوموړي د راستنېدونکو هېوادوالو غوښتنې او وړانديزونه واورېدل او اړوندو مسئولينو ته يې لارښوونه وکړه، ترڅو د کډوالو اساسي اړتياوو ته لا زياته پاملرنه وشي.

اقتصادي معاونيت:

د افغانستان د اړتيا وړ مالګه په کور دننه توليدېږي

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت وايي، چې افغانستان دامهال د اړتيا وړ مالګه په کور ويلي، چې په لسو ولايتونو سمنګان، فارياب، هرات، غور، بلخ، تخار، پکتيا، غزني، کندهار

دننه توليدوي او د مالګې پراخ او لوی کانونه لري. اقتصادي معاونيت پرون يوه ويډيو کې او پروان کې د مالګې کانونه شته او په مسلکي ډول يې د استخراج چارې ... ۲مخ

سيلانيانو ته لازياتې اسانتياوې برابرېږي

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ګرځندوی، مالي او اداري چارو مرستيال مولوي قدرت الله جمال په مشرۍ د سيلانيانو د امنيت تامينولو او دوی ته د اسانتياوو برابرولو په موخه د بهرنيو او کورنيو چارو وزارتونو او د امنيتي ادارو له استازو سره د همغږۍ غونډه وشوه.په دې غونډه کې بهرنيو سيلانيانو ته د ډاډمن امنيت برابرولو، د ويزو په برخه کې د اړينو اسانتياوو رامنځته کولو او د هوټلدارۍ او ګرځندوی انستيټيوټ د فعاليتونو د پياوړتيا تر څنګ د هېواد د تفريحي سيمو د ورپېژندلو په اړه هم خبرې شوې دي. په پيل کې مولوي قدرت الله جمال ګډونوالو ته د هرکلي تر څنګ ويلي، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت هڅه کوي، تر څو د سيلانيانو ستونزې ژر تر ژره حل او اړينې اسانتياوې ورته برابرې کړي. نوموړي زياته کړې، چې د وزارتونو تر منځ د ګډې همغږۍ له لارې بايد دغه اسانتياوې برابرې شي. د بهرنيو او کورنيو چارو وزارتونو استازو هم خپلې طرحې او وړانديزونه شريک کړي او پرېکړه شوې، چې د سيلانيانو چارو ته د ښې رسېدنې لپاره به دا ډول دوامدارې غونډې کېږي.

د پوهنې وزارت:

راستانه شوي زده کوونکي تعليمي بنسټونو کې جذبېږي

د پوهنې وزارت خبر ورکړی، چې له ګاونډيو هېوادونو د راستنو شويو افغان زده کوونکو د ښوونې او روزنې مسئوليت په پوره ژمنتيا په غاړه اخلي. د پوهنې وزارت په خپره کړې خبرپاڼه

کې ويلي: هېواد ته راستانه شوي زده کوونکي به د هېواد په ټولو رسمي ښوونځيو، دارالعلومو، مدرسو او نورو دولتي او خصوصي ښوونيزو بنسټونو کې جذب شي. ياد وزارت له کورنيو، اړوندو سيمه ييزو مسئولينو، ديني علماوو او خيريه بنسټونو غوښتي، چې د دغه اسلامي او ملي مسئوليت د بريالي ترسره کېدو لپاره له وزارت سره پوره همکاري وکړي. دا په داسې حال کې ده، چې هېواد ته د بېرته راستنېدونکو افغانانو په ډله کې هغه ماشومان هم شامل دي، چې ګاونډيو هېوادونو کې يې زده کړې په نيمايي کې پاتې شوې دي.

د ۲۰۹ الفتح قول اردو له ښوونيز مرکز څخه ۸۰۰ منسوبين فارغ شول

د ملي دفاع وزارت وايي، چې د ياد وزارت اړوند د ۲۰۹ الفتح قول اردو قوماندانۍ له ښوونيز مرکز څخه ۸۰۰ تنه ځوان منسوبين له درې مياشتنيو پوځي، تکتيکي او عقيدوي زده کړو وروسته د يو لړ مراسمو په ترڅ کې فارغ شول. دغو مراسمو کې د ملي دفاع وزارت د ښوونې او روزنې رئيس شيخ داد محمد محمدي، د ۲۰۹ الفتح قول‌اردو مرستيال ملا عبدالوکيل منيب، د بلخ ولايت د علماوو شورا رئيس شيخ عبدالجليل شهيدخېل، د شمال زون علماء کرامو او ګڼ شمېر منسوبينو ګډون درلود ... ۲مخ

د صنعت او سوداګرۍ وزارت:

له پاکستان سره سوداګري نږدې يو ميليارد ډالرو ته رسېدلې

د صنعت او سوداګرۍ وزارت وياند عبدالسلام جواد اخندزاده د هېواد ورځپاڼې خبريال ته د ويډيويي پيغام له لارې ويلي دي چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د سوداګرۍ کچه د ۲۰۲۵ کال له پيله تر شپږو مياشتو پورې نږدې يو ميليارد افغانيو ته پورته شوې ده. د نوموړي په وينا: په ياده موده کې د افغانستان او پاکستان تر منځ دوه اړخيزه سوداګري ۹۸۹ ميليونه ډالرو ته رسېدلې ده چې له دې جملې پاکستان ته د ۲۷۷ ميليونو ډالرو صادرات شوي دي او پاتې ۷۱۲ ميليونه ډالره له نوموړي هېواده واردات شوي دي. پاکستان ته په صادراتو کې پنبه، پياز، روميان، کشمش، مېوې، زغال او د تالک تېږې شاملې دي او له پاکستان څخه افغانستان ته وريجې، طبيعي درمل، سمنټ، بوره، کتان، منسوجات، نوي البسوي مواد او همداشان د فابريکو لپاره خام مواد راوارد شوي دي. په ورته مهال د اقتصادي چارو کار پوه محمد عيسی مبارز وايي: د کوم هېواد چې صادرات زياتېږي او واردات يې کمېږي ... ۲مخ

د پراختيايي پروژو په اړه د برېښنا شرکت او کابل ښاروالۍ د همغږۍ غونډه

د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائيوي رئيس ډاکټر عبدالباري عمر د کابل ښاروالۍ

له تخنيکي او ساختماني مرستيال ښاغلي عامر ياسر سره، کابل کې د ساختماني پراختيايي پروژو لپاره د برېښنا شبکو اړوندو پايو، ترانسفارمرونو او تجهيزاتو د ځايونو د بدلون او تخنيکي اړخونو په اړه د همغږۍ ناسته وکړه.د کابل ښاروالۍ مرستيال د افغانستان برېښنا شرکت له ټولو همکاريو مننه وکړه او د پلان شويو او روانو ساختماني پروژو په برخه کې يې د دغه شرکت له رهبرۍ څخه د لا زياتو همکاريو غوښتنه وکړه. ډاکټر عبدالباري عمر د ښاروالۍ د رغنيزو پروژو هڅې او پرمختګونه وستايل او ښاغلي مرستيال ته يې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ.نوموړي ټينګار وکړ، چې د ښاروالۍ پراختيايي پروژې او ماستر پلان له تطبيق څخه مخکې دې د هر ډول بدلونونو په اړه له برېښنا شرکت سره لازم معلومات شريک شي. ښاغلي عمر وويل: د دواړو لوريو ترمنځ ... ۲مخ

جوزجان کې د اور وژنې آمريت ته ودانۍ جوړېږي

د جوزجان امنيې قوماندانۍ چارواکي وايي، چې د اقچې ولسوالۍ لپاره د اور وژنې آمريت ته د نوې ودانۍ د جوړولو چارې پيل شوې دي. د جوزجان امنيه قوماندان مولوي عبدالستار صابر باختر اطلاعاتي آژانس ته ويلي، چې ياده ودانۍ د کورنيو چارو وزارت له بوديجې د ۴.۸ ميليونو افغانيو په لګښت رغول کېږي. نوموړي وويل، چې هېڅ ټولنه له احتمالي خطرونو لکه اورلګېدنې او طبيعي پېښو څخه خوندي نه ده، نو له همدې امله د اوروژنې د ټيمونو ښه تجهيز او عصري کول يوه بېړنۍ اړتيا ده، تر څو هغوی د هر ډول احتمالي پېښې پر وړاندې پوره چمتووالی ولري.

بغلان کې ۱۶۰۰ خپلمنځي شخړې حل شوې دي

د بغلان ولايت د امنيې قوماندانۍ مسئولين وايي، چې په دغه ولايت کې د افغانستان اسلامي امارت په بيا واکمنېدو سره د خلکو ترمنځ ۱۶۰۰ خپلمنځي شخړې حل شوې دي.د بغلان د امنيې قوماندانۍ يو مسئول مولوي بازمحمد اياز وايي: چې د ياد مديريت له لورې د جوړو شوو شوراګانو، قومي مشرانو، ځايي سپين ږيرو او ديني عالمانو په همکارۍ يې د دې ولايت په مرکز او ولسواليو کې د خلکو تر منځ ۱۶۰۰ شخړې حل کړې دي. د نوموړي په وينا، په دغه ولايت کې د اسلامي امارت په بيا حاکميت سره شوراګانو د شخړو د حل په موخه زيات کار کړی او د خلکو تر منځ يې ګڼې شخړې حل کړې؛ دوی هڅه کړې چې سيمه ييزې شخړې حل او د خلکو ترمنځ د رامنځ ته کېدونکو لويو شخړو مخه ونيسي. د بغلان اوسېدونکي وايي، چې په دې ولايت کې ډېرې شخړې د ځمکو، اوبو، ټولنيزو ستونزو او ګڼو نورو لاملونو له مخې رامنځ ته شوې، چې د حل لپاره يې پراخې هڅې پيل شوې دي.

سازمان ملل متحد ۱۶۵ کشمش‌خانه در افغانستان می‌سازد

سازمان خوراک و کشاورزی ملل متحد، می‌گوید که در حال ساخت ۱۶۵ کشمش‌خانه در بخش‌های مرکزی، شمالی، جنوبی و شرقی افغانستان است. این نهاد سازمان ملل، دیروز در اکس نوشته که این پروژه با حمایت مالی بانک جهانی در حال اجراء است. سازمان خوراک و کشاورزی ملل متحد، نوشته که هر کدام از کشمش‌خانه‌ها، می‌تواند تا ۱۵ تن انگور را ذخیره کند. این سازمان افزوده که ساختن کشمش‌خانه‌ها، به کشاورزان کمک می‌کند تا ضایعات پس از برداشت را کاهش داده و از طریق خشک‌کردن و ذخیره‌سازی بهتر انگور، درآمد خود را افزایش دهند.

د راستنېدونکو هېوادوالو لاسنیوی ګډ مسئولیت دی!

هــره ورځ له ګاونډیو هېوادونو څخه زرګونه افغانان د ژوند له ناخوالو، بېوسـۍ او زغمل شویو کړاوونو سره بېرتـه خپل وطن ته را ګرځي. دا راسـتنېدنه که څه هم د خپل هېواد خـاورې ته راګرځېدل دي، خو د دوی لپـاره د نویو سـتونزو پیل هـم دی. دغه ډول پراخ جبري راسـتنېدل نه یوازې د حکومتونو، بلکې د ولسـونو د همکارۍ او خواخوږۍ تقاضا کوي. په داسـې حال کې چې د اسلامي امارت اړوندې ادارې د دوی د اسـتوګنې، ټرانسپورټ، نغدو مرستو او ځمکو لپاره طرحې وړاندې کـړې دي، خو دا به یوازې هغه مهال دوامـدارې پایلې ولـري، چې د شـتمنو او ملي پانګوالـو رغنده ونـډه هم ورسره مل وي. په داسـې حال کې چـې هره ورځ زرګونه افغانـان له ګاونډیو هېوادونـو، په ځانګـړې ډول له ایران او پاکسـتان څخـه په جبري ډول هېـواد ته راسـتنېږي، هېواد له یوه بشري، اقتصادي او ټولنیز ازمېښـت سره مخ دی.
یـوازې د هرات له اسـلام کلا بندر څخـه هره ورځ شـاوخوا ۳۰ زره کسـان بېرته را سـتنېږي او تر ۱۰ زره نـور بیا د نیمروز لـه لارې هېواد ته داخلېږي. دا وضعیت د ملي یووالي، انسـاني مسئولیت او دوامدارو حللارو غوښـتنه کوي. د مسئولینو په خبره تېرې یوې میاشـت کې له نیم میلیون څخه زیات افغان کډوال له ایران څخه بېرته را سـتانه شـوي، چې دا یو بېساری او اندېښمنوونکی شمېر دی.
اسـلامي امارت د مهاجرینو سـتونزو ته د رسـېدنې عالي کمېسـیون له لوري تر دې دمه د ۱۴۰ زره جریبه ځمکې تخصیص، د ۳۵ ښـارګوټو طرحې، او پر نغدي مرسـتو سربېره، د کار موندنې، ټرانسپورټ او اسکان اسانتیاوې اعلان کړې دي. دا هڅې د قدردانۍ وړ دي، خو دا یوازې دولتي هڅو ته نه، بلکې د ټول ملت، په ځانګړې ډول د شـتمنو او ملي پانګوالو پراخې ونډې ته اړتیا لري.
هغه شـتمن افغانان چې اوس هم پـه هېواد کې پانګه لري، یا غواړي له بهر څخه خپله شـتمني هېواد ته را انتقـال کړي، باید دا فرصـت د ملت د خدمت، د کار د ایجـاد او د سـتر ملي مسـئولیت د ادا کولو په توګه وبولي. اسـلامي امارت هم ورته ځانګـړې امتیازات وړاندې کړي؛ له مالیې معافیت، وړیا ځمکه، د موټرو معافیـت او د بهرنیو کارکوونکو لپاره ویزې، دا ټولې هغه هڅونې دي چې پانګوالو ته زمینه برابروي، چې هم خپـل کاروبار وغځوي او هـم د زړونو زخمونه مرهم کړي.
نـن ورځ هېواد له هغو کسـانو مرسـته غواړي، چې کولی شي مرسـته وکړي. دا وخت د شـتمنو د امتحان دی، نه یوازې د دولت. که مـوږ له دې فرصت څخه د انسـاني خواخوږۍ او مـلي یووالي پـه روحیه ګټه واخلـو، دا بحران بـه د کار، تولید، عزت او ودې یو نوی فصل وګرځي.
هغه نیـم میلیـون افغانان چې یوازې په یوه میاشـت کې له ایران څخه راسـتانه شـوي، یوازې شـمېر نه دی؛ بلکـې دا د درد، ناچـارۍ او امید غږونه دي. نن افغانسـتان یوازې په حکومتي تدابیرو سره نه، بلکې په ملتپالنې، ملي خواخوږۍ او عملي مرسته‌کوونکو اقداماتـو سره بېرتـه رغېـدای شي. پانګوال، شـتمن شخصیتونه او د هېواد د اقتصاد ځواکمن لوري باید دا تاریخي فرصت د یو ملي رسالت په سترګه وګوري، تر څو هم انسـاني مسئولیت اداء شي، هم تولیدي بنسټونه پیاوړي شي او هم هېوادوالو ته د عزتمن ژوند فرصت برابر شي.
دا وخت د زړونو د جوړونې، د باور د بېرته ترلاسـه کولـو او د ملـت د یوموټې کولـو دی. راځئ چې دا مهاجـرت، له یوه بحران څخه د یـو فرصت په توګه وبولو، یو داسې فرصت چې د ملت هره برخه پکې د هېواد د جوړېدو لپاره لاسونه سره یو کړي.

مسئولین امور باید تسهیلات لازم را برای باغداران و دهاقین کشور مساعد سازد

مجتبی

از پیروزی امارت اسـلامی افغانستان حدود چهار سال می شود، باغداران و دهاقین کشور ما با خرسـندی در فضای امـن و ثبات بالای زمین ها و باغهای خویش سر گرم جمعآوری حاصـلات سر درختی و زراعتی می باشـند و بـه فضل و یـاری خداوند مهربان امسـال کشـاورزان و باغداران وطن مـا از افزایش میوه های تازه اعم از خربوزه،تربوز،گیلاس، زردآلو،آلوبالو،سیب،انگور و سایر میوه های سردرختی که حاصل زحمت یکساله آنان می باشد شادمان بوده و همین اکنون وقت فروش آن فـرا رسـیده و از ولایت هـای همجوار به بازار های شـهر کابل سرازیر شـده است و فراوانـی میوه های تازه مـی تواند بهترین نویدی باشـد برای بهبـود وضعیت اقتصادی باغداران و دهاقین کشـور. ولی آنچه که می تواند به خاطر گسترش زراعت و به خصوص باغداری در کشـور تاثیر وارد نماید و سـبب خوشنودی باغداران کشور شود راهکارهای بازار فروش و راهیابی میوه های تازه کشـور به خارج از افغانستان از طریق تاجران ملی، مسـئولین اتاق های تجارت و رهبری وزارت صنعت و تجارت امارت اسلامی افغانستان می باشـد. اگر فروش و صادرات میوه های تازه کشور هنگام پخته شدن به صورت درست از طریق مسـئولین وزارت صنعت و تجارت به همکاری اتاق های تجارت و صنایع افغانستان سـازماندهی گردد و یا بعـد از جمعآوری در سردخانه ها جابجا شـود، بدون شک حاصل بدسـت آمده باغداران چندین برابر افزایش پیدا میکند و در تمام فصول سـال شهروندان ما از میوههای تازه داخل کشور خود استفاده کرده می توانند و پول های گزافی برای خرید میوه به کشور های همسایه فرار نخواهد کرد آن هم برای خرید میوه کشور خودمان که در سردخانه های کشـور های همسایه ذخیره و نگهداری می شـود. البته بـا قیمت ناچیز در پایان فصل پخته شـدن از باغداران کشور ما خریـداری کرده اند و بـار دیگر همین میوه ها را برای مردم ما بـه قیمت گزاف بفروش می رسـانند. دهاقیـن و باغداران کشـور با پیروزی امارت اسـلامی که امنیت سرتاسری در تمام جغرافیای افغانستان تامین می باشد با زحمتکشـی های فراوان باغهای زیادی را به ثمر رسـانده اند و امروز هریـک از این باغ ها و زمیـن ها صدها تن میوه های سردرختی و زیـر درختی حاصل مـی دهند،که از یک طـرف در ارتقای سـطح زندگـی و اقتصاد دهاقیـن و باغداران کشـور تاثیر مثبت وارد می کنـد و از جانب دیگر بـا فراوانی میوه جات تازه وخشـک بازار صادرات و تجارت کشـور نیز رونق بهتر پیدا می کند که صدها تن از افراد بیکار شـامل کار و صاحب شغل می شـوند و صدها خانواده در داخل کشور به قیمت نهایت مناسـب از میوههای داخلی کشـور خود که از کیفیت عالـی برخوردار اند مسـتفید می گردند و از آن اسـتفاده می کنند، ولـی آنچه که مایه نگرانـی باغداران کشـور به خصوص در فصل پخته شـدن و جمعآوری میوه ها می گردد ،عدم موجودیت بازار فروش و نبود پـلان های منظم تجارتی و صـادرات میوه های تازه باغداران کشـور می باشـد،چرا که میوه های تازه به خصوص خربوزه،زردآلو،گیلاس،انگـور و شـفتالو همـه یکبارگـی پخته مـی شـوند و باید به موقع جمعـآوری و چیده شـود، ولی بعضی از این میوه ها نسـبت نبود فابریکه های آب کشی میوه کنسروسـازی آن و همچنین عدم موجودیـت سردخانه های بـزرگ و کمبود بـرق به زودتریـن فرصـت و کمترین زمان خاصیت خود را از دست می دهد و فاسد می گردد.به طور مثال آلوبالو،گیلاس،شـفتالو و زردآلو کم وقـت تازه می مانند و بعد از چند روز از پخته شـدن باید چیده و از آن استفاده شـود ویا در یخچال ها ذخیره گردد در غیر آن خراب می شـوند، ولی انگور می شود که به کشمش خانه ها انتقال داده شود و خشک گردد.در همین راستا خربوزه و تربوز بدون سردخانـه برای مـدت کمی نگهـداری می گردد، باید زودتر از آن اسـتفاده شـود.روی همین علـت دهاقین و باغداران کشـور هر سـال در فصل پخته شـدن میوه و جمعآوری آن دچـار نگرانی می گردند و خراب شـدن میوه های تازه را که امکان فروش آن در بازار های شـهرکابل و سایر شـهرها کمتر وجود دارد و یـا هم بایـد به قیمت نهایـت ناچیز بفروشـند،بزرگترین ضربـه اقتصـادی و به خصوص بزرگترین خساره بر حاصل زحمت خویش می دانند.اگر چه مسئولین امور پلان های پیشگیرانه تجارتی و صادراتی میوه های تازه را سازماندهی می کنند، ولی نسبت عدم راه های ترانزیتی،تجارتی و بازارهای فروش مطمئن همه سـاله میوه های تازه باغداران در کنـار سرک ها وجاده ها هموار و برای مردم عرضـه می گردد و به قیمـت ناچیزی که در واقعیـت پول چیدن و انتقـال آن تکمیل نمی گردد بفروش می رسـد. باغداران کشـور از مسئولین وزارت صنعت و تجارت تقاضا دارند تا به این درد و مشـکلات آنان که از خرابی میوههای تازه و باکیفیت آنها ناشـی میگردد رسـیدگی کنند و نگذارند که حاصل دسـت های پر آبله این زحمتکشـان کشـور بیهوده گردد.وزارت صنعـت و تجارت و اتاق های تجارت باید برای جمعآوری میوه های تازه هم از نگاه صادرات و هم از نظر ایجاد سردخانه هـای بزرگ بـه خاطر نگهـداری میوههای تازه راهکارهای عاجلی را رویدسـت گیرند و باغـداران را در عرصـه صادرات و فروش میوههای تازه در این فصل گرما و فصل پخته شدن میوه ها کمک و یاری رسانند،تا از یک طـرف حاصل عرق ریزی باغـداران به هدر نرود و از جانب دیگر اقتصاد کشور و مردم ما ارتقا و بهبود حاصل کنند.
توقع می رود کـه وزارت زراعت و تجارت عـلاوه از میسر کردن تسـهیلات ترانزیتی با ایجاد
سرد خانه ها از فاسـد شـدن میوه باغداران جلوگیری کرده و اتاق تجارت نیز باید
با ایجاد کارخانههای کوچک تجار افغانی را در بسته بندی و بارگیری محصولات باغداران و دهقانان مطابق نورم های بین المللی کمک نمایند. اتخـاذ تدابیر و پیـش بینی های لازم خواهـد توانسـت بسـیاری از مشـکلات باغداران و دهقانان را حل نماید.

د افغانستان د اړتیا وړ ...

روانـې دي. ویډیـو کې ویل شـوي، چې افغانسـتان د کال ۳۰۰ زره ټنـه مالګـې ته اړتیا لـري، خو له یادو کانونو په میاشـتني ډول ۲۸ زره او پـه کلنـي ډول ۳۴۴ زره ټنه مالګه اسـتخراجېږي چې د هېواد اوسـنۍ اړتیاوې پوره کوي. اقتصادي معاونیت ویلي، چـې دامهال هېواد کې د مالګـې د تولید او پروسـس ۵۳ کارخونې فعالیـت کوي، چې په مسـتقیم او غیر مسـتقیم ډول په کې ګڼ شمېر هېوادوال په کار بوخت دي. اقتصادي معاونیـت زیاتـوي: دغه فاریکـې مکلفې ګڼل شـوي چې پر ټولـو معیارونو برابره او له صحي اړخه باکیفیتـه مالګه تولید کړي. اقتصـادي معاونیت زیاتـوي چې د مالګې د تولید په برخه کې ځان بسیاینې ته د رسېدو پـه موخه یې لـه بهره هېواد تـه د هر ډول مالګې واردات بند کړي. اقتصادي معاونیت همدارنګه ویلي، چې اسلامي امارت د مالګې د تولیـد فابریکـو ته د هر ډول اسـانتیاوو برابرولو او همکارۍ ډاډ ورکړی دی.

د ۲۰۹ الفتح قول اردو له ...

مسـولینو فارغانو ته پخپلو خبرو کې ویلي: ستاسو دا هڅې او زیارونه د اعداد یوه برخه ده او دغه‌راز یې فارغو شـویو منسوبینو ته د لاښـه خدمت په موخه د اړینو سپارښتنو ترڅنګ په ورسـپارل شوي مسئولیت کې د بریاوو غوښـتنه کـړې ده.د یادونې وړ ده، چې د ۲۰۹ الفتح قول اردو له دغه ښـوونیز مرکز څخه د تېرو دورو په دوام دا اتمه دوره ده، چې له ښـوونیز مرکـز څخه په پوځي، تکتیکـي او عقیدوي برخو کـې په بریالۍ توګه د هېواد د دفاع په پار ځوان منسـوبین فارغېږي.

له پاکستان سره سوداګري ...

نـو دا جوتوي چې د هغه هېـواد اقتصادي ثبات د ودې پـر لـور روان دی، که چېرته د وارداتـو کچه نسبت صادراتـو ته زیاته شي، نـو بیـا د اقتصادي ودې لپاره ښـه خبر نـه دی، نو پـه کار ده چې لـه ارزونې سره سـم هغه ټکي ومومو، د کومو له امله چې صادرات زیانمنېږي او ورته حللاره پیدا شي. د نومـوړي په خبره: د تناسـب په اسـاس د راکړې ورکړې لپـاره زمینه جوړېدل په کار دي تر څو ښـه بازار ولـري او له دې لارې اقتصادي ودې ته ورسـېږو. د انتقال لپاره په کار ده چې تعرفې کمې شي، ورته بازار پیدا شي او له نړیوالو غوښتنو سره خپل تولیدات او محصولات ور ولېږدوو چې په دې برخه کې لازمو اسانتیاوو ته زمینه برابرول په کار دي. دې سره هممهالـه د اقتصـادي چارو یو تن شـنونکی جهانګیر ناصري وایي: موږ ته په کار ده چې د اقتصادي ودې لپاره واردات کـم او صـادرات زیات کـړو، ځکه چې د صادراتو کچې زیاتوالی د هېواد لپاره د ښـه اقتصـاد غـوره لاره ده.د نوموړي پـه وینا: لومړی باید په کور دننه تشـو ته وکتل شي، بیا پرې کار وشي، په هغې برخه کې پانګونه وشي او د خپـل هېواد د تولید او محصولاتو لپاره په نړیوالو بازارونـو کې بازار موندنه وشي تر څو صـادرات زیات او واردات کم شي او لـه دې لارې د هېواد د اقتصاد پراختیا ته زمینه برابره شي. زیارمل هوتک

د پراختیایي پروژو ...

مخکې له مخکې همغږي ضروري ده، څو د چارو پـر وړاندې خنډونه لرې شي او د کار بهیرونه او لګښـتونه ضایع نه شي. په ناسته کې د کابل برښنا ریاست مسئولینو هم ګډون درلود او د رغنیزو پروژو په یو شمېر برخو کـې یې د خنډونو او سـتونزو په اړه خبرې وکړې.

د افغان کډوالو هـرې ...

ستونزو ته رسېدنه کړې ده. دغه‌راز د ناستې پر دوام مولوي عبدالجبار تخاري په کراچۍ ښـار کـې د افغانانو د یو لړ سـتونزو د حل پـه موخه خپل وړاندیزونه له ښـاغلي وزیر سره شریک کـړي دي. مولـوي عبدالکبیر د پاکسـتان پـه کراچۍ ښـار کـې د افغان کډوالو د ستونزو د حل په برخه کې د افغان ډیپلوماټانو هڅې ستایلې او ویلي یې دي، چې تـر دې مهاله په بهر کې د اسـلامي امارت د استازولیو له خوا افغانانو ته مناسب خدمات وړاندې شـوي او د کډوالو چـارو وزارت هڅه کوي، ترڅو له اړونـدو ادارو سره په همغږۍ د افغان کډوالو سـتونزو ته رسېدنه وکړي. نوموړي زیاته کړې، چې په کراچۍ ښـار کې د افغانانو سـتونزو ته د رسـېدنې په موخه به شـویو وړاندیزونو ته حللارې ولټوي او د وړاندې شویو امکاناتو په چمتو کولو کې به همکاري وکړي.

د UNODC پلاوي د نشهیي ...

کنبـت او د روږدو کسانو د درملنې، حمایې او راټولولـو پـه برخـو کـې خپـل ملاتړ زیات کـړي. بلهخـوا، د UNODC پلاوي د معینیت هڅې وستایلې او ژمنه یې وکړه چې همـکارۍ به روانې وسـاتي. یاد پلاوي له بزګرانو سره د مرستو او د روږدو کسانو د ملاتـړ پـه برخه کـې د همکاریـو ژمنه هـم وکـړه. بلهخـوا د UNODC پلاوي د معینیت هڅې وستایلې او ژمنه یې وکړه چې همکارۍ به یـې دوام ومومي. یاد پلاوي له بزګرانو سره د مرستو او له روږدو کسانو سره د ملاتړ په برخه کـې د همکاریو ژمنه هم وکړه.

ایران او پاکستان له افغان ...

لـه مجبوریته سـیاسي ګټه اخلي. د سیاسي چارو شـنونکي شهسوار سـنګروال وایي: « باید اسـلامي امارت د هېواد په داخل کې کډوالو ته پاملرنـه زیاته او د ژوند لومړنۍ اړتیاوې ورتـه برابرې کـړي. زه مطمئن یم چې ملګـري ملتونـه او د هغـوی خیریه بنسـټونه او دغه راز مرسـتندویې ټولنې به له افغانسـتان سره مرسـته وکړي. ښه خبره دا ده، چـې موږ دې سـترې او لویې غمیزې ته د پای ټکی کېږدو.)) په داسـې حال کې چې روسـیه د نړۍ لومړی هېواد شـو چې د اسـلامي امارت حکومت یې په رسـمیت وپېژانـده، ایـران په دې تـړاو دریځ نه دی اعلان کړی، خو پاکستان بیا ویلي: د اسلامي امارت په رسـمیت پېژندلو کې بېړه نه لري. افغـان حکومت لـه ایرانه غوښـتي، چې د افغـان کډوالو حقونو تـه درناوی وکړي، د ګاونډیتـوب اصل ته دې ژمنتیا ثابته کړي او وخت دې ورکړي چې هلته مېشت افغانان په خپله خوښه افغانستان ته را وګرځي.

د کابل ښار د ۱۲مې ناحیې ...

د کابل په ټولو ناحیو کې د ماشـومانو لپاره د مطالعـې دغه شـان مرکزونـه پرانیزي. د عامـه کتابتونونو رئیس حافـظ نعمت الله منتظـر هم په خپلو خبرو کې، د ماشـومانو پـه ښـه روزنه کې د یادې ځانګړې پرانیسـتل یـو اغېزمـن ګام وباله او څرګنـده یې کړه چـې دغه ریاسـت د هېواد د ماشـومانو او ځوانانو د ښـې روزنې او د هغوی د ذهنونو د اصلاح او روښـانولو لپاره مهم پلانونه او پروګرامونه لري.
د غونـډې په بهیر کې، د "شـانتي رضاکارې ټولنې" مسـئول ډاکټر جاوېـد صافي د دغې ټولنې د فعالیتونو او راتلونکو پلانونو په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل چې دغه ټولنه د اطلاعاتـو او فرهنګ وزارت په ګډون، له بېلابېلو امـارتي ادارو سره همکاري کوي او د خپـل فعالیت له پیل څخه تر اوسـه پورې یې د هېواد په کچه ۵۳ ښـوونځي رغولي او په لسګونو ښـوونځیو کې یې کتابتونونه او سیمه ییز ټولګي جوړ کړي دي.
ده د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د همکارۍ قدرداني وکـړه او د خپلو فرهنګي همکاریو د دوام ډاډ یې ورکړ.
پـه همدې حـال کـې، مولوي نقیـب الله، خان محمـد او فقیر جان منګل د سـیمې د خلکو په اسـتازیتوب د علـم او مطالعې پر ارزښـت خبرې وکړې او د عامـه کتابتون د ماشومانو ځانګې پرانیسـتل یې د ماشومانو یـوه مهمـه اړتیـا وبلله او د دې ځانګې د فعالولـو په خاطر یې د اطلاعاتو او فرهنګ له وزارت او «شـانتي» ټولنې څخه قدرداني وکړه.
د غونـډې په پای کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مسـئولینو د یادې ټولنې مسئول او د دولسمې ناحیې د عامه کتابتون کارکوونکو تـه سـتاینلیکونه ورکـړل او د کتابتون له بېلابېلو برخو څخه یې لیدنه وکړه.
د یادونـې وړ ده چـې اوسـمهال د عامـه کتابتونونو ریاست تر چتر لاندې د هېواد په کچه ۹۸ عامـه کتابتونونه فعالیت لري، چې له دې جملـې ۱۲ کتابتونونه د کابل په مرکز او ولسوالیو کې دي.
په دغو کتابتونونـو کې په بېلابېلو عنوانونو سـلګونه زره ټوکـه دینـي، ادبي، تاریخي، فلسـفي، ټولنیز او نور کتابونه شـته او هره ورځ سلګونه مراجعین لري.

کابل ښاریان د برېښنا ...

مطالعاتـو مرسـتیال محمد نـاصر احمدي وایي: پلازمینه کابل کې د برېښـنا پرچاوۍ کمولـو لپاره یې پر یو لـړ پلانونو کار کړی دی.((اوړي کـې هم برېښـنا ته د اړتیا کچه لوړېږي او مـوږ یې د مهارولو لپاره حرارتي دستګاه فعاله کړې ده. پخوا ۵ ساعته چالانه وه اوس ۱۰ سـاعته چالانـه وي. دا لنډمهاله اقدامـات دي. که حـرارتي دسـتګاه فعاله نه شي، پرچاوي تر ۵۰ سـلنې رسـېږي.)) د یادونې وړ ده چې هر کال د اوړي او ژمي پر مهال په پلازمېنې کابل او ځینو ولایتونو کې د برېښـنا پرچاوې هم زیاتېږي او هېوادوال د خپلـو کورونو د سـړولو او تودولو برخه کې له ستونزو سره مخامخېږي.

لوګر کې د سلام مخابراتي ...

د پراختیا او خلکو ته د اسـانتیاوو برابرولو پـه موخه تـرسره کېږي. د یادونـې وړ ده، چـې له دې وړاندې هم پـه دغه ولایت کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ ریاست د ۱۶ مخابراتي سایټونو د فعالولو سروې بشپړه کړې، چې نږدې ورځو کې به یې د جوړولو چارې پیل شي.

۲۳۹۱ بندیانو ته د سواد ...

تصدیـق پاڼې هـم ورکول کېـږي.» ورته وخت کې د زندانونو چـارو د تنظیم ادارې مسـئولین وایـي: د پوهنـې وزارت سره د لاسـلیک شـوې هوکړې پر اسـاس د ډېر عمرلرونکـو زندانیانو لپاره هـم د زده‌کړو زمینه برابرېـږي. د زندانونو چارو د تنظیم ادارې د ښـوونې او روزنې رئیس نظر محمد نـاصري پـه دې اړه وویل:«لـه نېکه‌مرغه زندانونو کې د سـواد زده‌کـړې ۶۸ ټولګې لرو، د دغې هوکړې له لاسلیک وروسته به ان شـاءالله هڅه وکړو چې کورسونه اضافه شي، ۹۷ مدرسـې او ۱۷ ښـوونځي لـرو، د ماشومانو لپاره دې او موږ د ډېر عمرلرونکو لپاره دغه پروګرام جوړ کړی دی.» د پوهنې وزارت لـه دې وړانـدې ویـلي وو چې دغه وزارت په پام کې لري، څو راتلونکو درېیو کلونو کې هېواد کې د یو میلیون کسانو لپاره د سواد زده‌کړې پروګرامونه په لاره واچوي.

خوست کې د ۲ کورنیو ...

شوې وه، چې دواړو لوریو ته په کې ځاني او مالي زیانونه هم اوښتي وو او د دیني عالمانو، قومـي مشرانو او سـیمه ییزو مسـئولینو په هڅو ورته د پای ټکی کېښودل شو.»
د یادونـې وړ ده، چـې په خوسـت ولایت کې وخت ناوخته ورته شـخړې او دښمنۍ رامنځتـه کېږي، خو د ولایتـي ادارې، دیني عالمانـو او قومـي مشرانو په هڅـو ورته حللارې موندل کېږي.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تآسی از فقره دوم ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث در نظر دارد{پروژه اعمار دیوار استنادی در قریه موش خانه ولسوالی مندوزی ولایت خوست} خویش را تحت شماره داوطلبی ANDMA/NCB/AFG/680173/1404/W-05 با شرکت ساختمانی ممتاز شرق دارنده جواز نمبر (D- ۲۹۹۵۷) آدرس سرک کابل جلال آباد پلچرخی مرکز کابل به قیمت مجموعی مبلغ (۳،۲۱۷،۷۵۵) سه میلیون و دوصد و هفده هزار و هفتصد و پنجاه و پنج افغانی اعطاء نماید اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند؛ می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به آمریت تدارکات اداره ملی آمادگی مبارزه به حوادث واقع کوچه شفاخانه ملالی کابل-افغانستان وفق احکام ماده پنجاهم قانون تدارکات ارایه نمایند.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.۴۴۲.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود ، ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی در نظر دارد ، پروژه حفر چهار حلقه چاه آب دارای نمبر تشخیصیه
RTA/1404/NCB/G-1582
خویش را به ارزش مجموعی مبلغ ۱۸۶۳۳۶۰) افغانی با جانب شرکت ساختمانی سهیل وحید اعطاء نماید.
اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند ، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی واقع سرک سیزدهم وزیر محمد اکبر خان کابل ، ارایه نمایند.
این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی ، قرار داد منعقد نخواهد شد.۳۹۷

اطلاعیه تصمیم اعطای قرار داد

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود ، که ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی در نظر دارد ، در سال ۱۴۰۴ قرار داد پروژه تدارک تعداد هفت قلم روغنیات و سه قلم فلتر باب با نمبر تشخیصیه
MOIC/1404/NCB/G-1580
با جانب شرکت امارتی مواد نفت و گاز افغانستان به قیمت مجموعی مبلغ (۱۲۵۶۵۴۳۰) افغانی اعطاء نماید.
اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند ، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی هفت روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن به ریاست عمومی رادیو تلویزیون ملی واقع سرک سیزدهم وزیر محمد اکبر خان کابل ، افغانستان ارایه نمایند.
این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی ، قرار داد منعقد نخواهد شد.۴۰۰

اعلان داوطلبی

موضوع: اعلان داوطلبی پروژه اعمار دیوار استنادی در قریه سرگوده موشکی ولسوالی قره باغ ولایت غزنی
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث در نظر دارد تا پروژه اعمار دیوار استنادی در قریه سرگوده موشکی ولسوالی قره باغ ولایت غزنی خویش را تحت شماره تشخیصیه (-ANDMA/NCB /1404/W 19) به داوطلبی بسپارد بناً تمام داوطلبان واجد شرایط میتوانند از تاریخ نشر اعلان الی مدت (۲۳) بیست و سه روز تقویمی، شرطنامه و مشخصات را در فلش خویش از آمریت تدارکات این اداره واقع کوچه شفاخانه ملالی، مقابل برج شهر آرا دریافت نمایند، تضمین آفر مبلغ (۴۰,۰۰۰) چهل هزار افغانی به صورت تضمین بانکی و یا پول نقد هر دو قابل قبول میباشد.۴۳۹

اعلان داوطلبی

آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین} از تمام دواطلبان واجد شرایط دعوت می¬نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه امور ساختمانی { ترمیمات تعمیر مرکزی و واحد های مرکزی وزارت امور شهداء و معلولین تحت شماره تشخیصیه
MOMDA/1404/NCB/W-1520
